۰۸/۰۳/۲۰۱۶

ع/ شیرزوی

# د مارچ اتمه یا د ښځو نړیواله ورځ

ښځه هغه ځلانده اوروښانه ډیوه ده، چې په خپله رنګینه او زرینو وړانګو او نوراني پلوشویي نړۍ ته نور، ښکلا او ړنا ورکوي او د انساني ټولنو بقا او شتون ورپورې تړلې دي . که ښځه نه وای نو د ځمکې پر مخ ژوند به نه وای ، نه کورنۍ ، او نه هم انساني نسلونه او هیوادونه ، ځکه خو د آدمه تردې دمه ښځې او نر د لازم او مظلوم په توګه د ژوند ګډ کاروان د منزل په لور روان او وره په وره د انساني ټولنو او ودانۍ هڅې او یون یې ساتلې دي ، او د ژوندانه په ګډ کاروان کې هیڅکله هم د نارینو څخه ورسته نده پاتې شوې .
ښځه د ژوندانه په هر ډاګر او سنګر کې د ژوند په ټولو چارو او کشالو کې فعاله او نه هیریدونکې ونډه اخیستې ، او په داسې تل پاتې کارناموېي ، د ویاړه ډکو او زرینو حماسو او افسانو یې د تاریخ پاڼې رنګینې کړې ، چې د ښځې عظمت ، اهمیت او ارزښت په ډاګه کوي او هیڅ څوک ورڅخه سترګې نشي پټولی . کچیرې مونږ د خپل ګران هیواد د قهرمانو ښځو تاریخ راوسپړو دا به په ډاګه شي چې زمونږ د وطن حماسه جوړونکې ښځې تل دي وطن او ولس ته یې ویاړ وربخښلي دي ، او په هر ډول شرایطو کې یې خپله دنده ادا کړیده . د بیلګې په توګه د حماسو په ډګر کې کومه میرانه او سرښندنه چې ملالی میوندی د انګریز په مقابل کې د ځانه وښوده
او د افغاني سرتیرو او غازیانو په وینو کې یې بیا ولولې ددې ټپې په ویلو سره راوپارولې :

که په میوند کې شهید نشوې　　　　خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتمه
بیللې جګړه یې بیرته وګټله او غازیان یې د روا او بر حقې جګړې ته راوبلل .
همدارنګه ښځې د شعر او ادب د ځلانده ستورو په توګه دناو په نومونو سره ستایل شوې او د وطن په هر تاریخي پړوا کې یې خپل فرض ادا کړیدې لکه :
نازو انا، زرغونه کاکړ، بی بی زینب، رابعه بلخی، راضیه سلطان ، بی بی سیدو، غازی ادی ، میرمن الایي ، عایشه درانی، میرمن سپینه ، میرمن حلیمه، حافظه د خوشحال خان خټک لور، میرمن عینو او بی بی هاجره او داسې نورې د یادولو وړ دي دا هره یوه یې د هیواد په زرین تاریخ کې لوړ ځای لري او افغانان به یې د تل له پاره د زړه له کومې ستاینه کوي . د دوي حق بواځې په یادولو او دیوې مقالې په ویلو سره نه ادا کیږي لازمه ده د دوي د سر ښندولو په بدل کې ورته سیمنارونه او کنفرنسونه په لاره وچول شي تر څو راتلونکې کول د دوي د حماسو او فدا کایو څخه خبر شي.
همدارنګه د تاجکستان او ایران په وطن ماینې ښځې څه د شعر او ادب په ډګر کې او څه د سنګر او ژوندانه په برخو کې روښانه ډیوې پاتې شویدي او خپلو وطنو ته یې په هره برخه کې افتخارات وربخښلي دي ، دلته به د څو نوموتو ښځو په یادولو سره بساینه وکړو، چې د نړۍ په تاریخ کې یې د یوې نه یوې لارې څخه لوړ ځای او نړیواله پیژنده تر لاسه کړي ده او پدې لړ کې : سمې رامین یا ملکه بابل ، د مصر ملکه کلوباترا ، د فلسطین د آزادۍ ستره مبارزه لیلی خالد ، د الجزایر جمیله بوپوشا ، مارګرید تاچر، د ایتالیا سانتی رافیل ، د فرانسې مارام اشتال ، د سکا تلیند ماری کرلې، داسرایلو ګولډ امایر، د هند اندرا ګاندی، د پاکستان فاطمه جناح او بینظیر بوټو، د بنګله دیش حسینه واجد او خالده ضیا، د ترکیې تانسوچیلر، د جنوبی افریقا میرمن ماند یلا او داسې نورې .
همدارنګه د روسې شکووا ولنتیا لمړنی هوا نورده ښځه و چې فضا ته یې سفر وکړ او څو ورځې یې په اړوند کارونو او علمی څیړنو په فضا کې تیرې کړې، همدا شان مادام کوری د خپل خاوند په مرسته « یی یر کوری » په ۱۸۹۷ م کال کې پلتونیوم او راډیوم کشف کړل چې د ساینس په ډګر کې یوه زیا تونه وه .
اوس په هغې برخې ته راګرځو چې ښځو په خپل تیر شوي بهیر کې څه ناخوالې درلودې ، ددې ورځې تاریخي او ستراتیژیک اړخ یې په لنډ ډول سره را سپړو .
پدې وخت کې د ښځو ژوند د کور دننه و لکه : د ماشومانو پیدا کول، د هغوي روزل ، د خاوند چوپړ، د کور پاکې و صفایې، د جامو پریمنځل،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په ۱۹۰۸ م کال کې د لومړۍ ځل له پاره په امریکا کې د کالیو په یوې فابریکي کې ښځو د خپل د کار د اصولو پر ضد یو لاریون په لاره واچوه، دغه لاریون د امریکا د یوې سوسیالستي پارټي له خوا رهبري کیده ، چې یو کال ورسته په ۲۸ فبروری ۱۹۰۹ م کال په امریکا کې د خپل د حقوقو په خاطر یو غبرګون وښوده .
د ۱۹۰۹ او ۱۹۱۰ م کالنو تر منځ ځنیې خوزښتونه د نړۍ په یو شمیر هیوادو کې رامنځ ته شول چې پدې حرکتونو کې امریکا ، جرمنی ، اطریش ښځو مخکښ رول په غاړه درلود . د اګست د میاشتې په ۲۶/ ۲۷ /۱۹۱۰ م کال د ۱۳۰ تنو ښځو په ګډون د ۱۷ هیوادو څخه یوه لویه غونډه د ډنمارک د کوپن هاګن په ښار کې جوړه شوه .
LUISE ZIETZپدې غونډه کې د جرمنی د هیواد څخه سوسیالسته « لوس زایتس»
له خوا د ښځو له پاره د یوې رسمي ورځې د ټاکلو وړاندیز وکړ، چې پدې لړ کې یوه بله جرمنی
نومیده او د سوسیالست غورځنګ لیډره و Clara Zetkin ښځه چې « کیلرا زیت کاین » ورسره همغږي شوه او د هغې وړاندیز یې تاید کړ تر څو دغه ورځ د ښځو د کنفرانس د پریکړو په پایله کې یه ۱۹۱۴ م کال ۸ مارچ په نوم و نومول شوه .
: ددې غونډې موخې دا وې
۱/ د نارینو او د ښځو ترمنځ د حقوقو انډول .
۲/ په ټولټاکنو کې د ګډون حق .
۳/ په یو لړ تعلیمی ځانګو کې د ګډون حق او برابر والي .
۴/ په صحی برخوکې د ښځو له پاره د ښه شریطو برابر والي .
O د مارچ په ۱۹// ۱۹۱۱ م کال دغه ورځ په جرمنی ، اطریش ، ډنمارک او یو لړ نورو هیوادو کې ولمانځله شوه . ددغو غونډو او لمانځلو په پایله کې په ۱۹۷۵ م کال ملګرو ملتو پریکړه وکړه چې دغه ورځ دې « ۸ مارچ » د ښځو د نړیوالي ورځې په نوم ونومول شي .
1 په ۱۹۹۵ م کال په چین کې یو نړیوال کنفرانس پدې موخه په لاره واچول شو چې کومې پاتې ستونزې چې د ښځو په ژوند لا پرتې وې د حل یوه مناسبه لاره ورته ولټول شي. پدې کنفرانس کې د نړۍ د ۱۸۹ هیوادو استازو پکې ګډون درلود ، د بیلګې په توګه : په سیاست کې ګډون حق ، دخپل د خوښې علم زدکړه ، د اقتصادي ستونزو له منځه وړل ، په ټولنه کې ښځو ته په درنه سترګه کتل .

سرچینه:
www. Un . org
www. Womenwatch. Unwanen.org
وریت پښتون : نصرت امان الله لیکنه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ